# د عبدالقادرخان خټک د يو نوي اثر: تحفة اللهو بازيافت

ډاکټر عبدالله جان عابد[1]

Abstract:

*This research article introduces and analyzes a newly discovered Pashto manuscript titled "Tuhfatul Lahwi" attributed to the eminent Sufi poet Abdul Qadir Khan Khattak, the son of Khushal Khan Khattak. Among Khushal Khan's sons, Abdul Qadir Khan stands out as a prolific and multidimensional author. According to the renowned orientalist Major Raverty, Abdul Qadir authored nearly 60 works, yet only five—including his Dīwān—have been published and recognized by Pashto scholars to date.*

*The present manuscript, "Tuhfatul Lahwi" had remained unknown in Pashto literary circles and represents a unique genre not previously encountered in Pashto literature, although similar patterns are found in classical Persian texts. This study provides a comprehensive introduction to the manuscript, explores its textual characteristics, thematic orientations, and mysterious significance, and attempts to decode its esoteric dimensions.*

*The research contributes significantly to Pashto textual criticism. The study emphasizes the importance of "Tuhfatul Lahwi" for future endeavors in text editing, Pashto grammar development, lexicography, and literary historiography. Since foundational linguistic and literary resources rely heavily on ancient manuscripts. "Tuhfatul Lahwi" is expected to serve as a primary reference for scholars engaged in these fields.*

ډېرد خوشحالۍ او شکر مقام دے چې د پښتنو د فرهنګي ورثې يوه بله قيمتي شهپاره رابرخېره شوه ـ دغه شهپاره د عبدالقادرخان خټک **"تحفة اللهو"** ده، چې زمونږ په فرهنګي منابعو کښې يې په تواتر سره نامه "د معماوو رساله " راغلې ده ـ دا شهپاره يو داسې ځانګړے حېثيت لري چې په کلهم پښتو شعري ادب کښې يې د تکنيک په حواله بل مثال نشته ـ دا شهپاره تراوسه د هغۀ د نورو ورکو آثارو په خېر د تيرو په کومي کښې وه، چې دا ده اوس د لوے خداے په فضل بازيافت شوه او تاسو ته يې تعارف وړاندې کېږي ـ

د عبدالقادر خان خټک د دې ځانګړي اثر ذکر په لومړي ځل مېجر راورټي په خپل پښتو ګرائمر کښې د هغۀ د نورو آثارو سره سم کړے ؤ:

---

[1] Director, Pakistani languages Department, AIOU, Islamabad

"Æabd-ul-Kādir, who wielded his sword as bravely as his pen, wrote a Diwan, or collection of odes, and the love tale of Adam and Durkhana'i, so celebrated throughout the Afghan country - He also translated into Pushto, Jami's poem of Yusuf and Zulikha; and the Gulistan and Bostan of Shaykh Saaedi; all three celebrated works in the Persian language; and a little work entitled Muaeamma, or "Enigmas and Rebuses[1]" .

(ترجمه) عبدالقادر، د چا توره چې د هغهٔ د قلم په شان تکړه وه، یو دیوان یا د قصیدو ټولګه لیکلې وه او د آدم او درخانۍ د مینې کیسه یې لیکلې وه چې په ټول افغان وطن کښې مشهوره ده ـ
هغهٔ د جامي یوسف او زلیخا ،ګلستان او بوستان د شیخ سعدي پښتوته ترجمه کړي دي، چې درې واړه د فارسۍ معتبر او مقبول آثار دي او همدا راز یوه کوچنۍ رساله چې "معما" یا "معماوې" او "منقشې/شکلي معماوې " نومیږي، هم لیکلې ده ـ
مونږ وکتل چې د لوړ اقتباس په آخري کرښه کښې دغه اثر یاد شوے دے ـ بیا د پښتوګرائمرنه وروسته چې کله د میجر راورټي یو بل اثر د"Selection from the Poetry of Afghans" په نامه چاپ شو، نو په دغه کښې یې هم دغه یاد شوے اثر د هغهٔ د نورو آثارو د ذکر نه پس په ځانګړي انداز کښې ذکر کړو:

"He is said, by his descendants of the present day, to have been the author of about sixty different works; but with the exception of a small volume on enigmas, charades, and verses of mysterious meaning, even the names of them are now unknown[2]"

ترجمه: وئیل کیږي، چې د نن ورځې (دور) د هغهٔ د خاندان خلک وایي، چې عبدالقادر شاوخوا شپېتهٔ بېلابېل آثار لیکلي دي، خو د یوې کوچنۍ رسالې پرته، چې د معماوو، حرف جنګي او پټو معناوو لرونکیو اشعارو په اړه ده، د نورو آثارو نومونه یې اوس نامعلومه دي ـ

کهٔ څهٔ هم دا متن د راورټي په بیان کړو اصطلاحاتو/صنعتونو کښې د یو سره هم واضح تعلق نهٔ لري یعني نهٔ دا Enigma ده،نهٔ Rebus دے او نهٔ Charade ـ بلکې دا متن د اظهارالمضمر د صنعت یواختراعي صورت دے،چې په خپل نص کښې یو معمائي لفظي صنعت دے ـ د دې صنعت دغوصنعتونواو اصطلاحاتو سره ځینې خصوصیات مشترک دي ، خو تکنیک یې ځانګړے دے ـ البته د راورټي د دغه اقتباس مندرجات دا حقیقت راښائي چې دغه اثر په دغه وختونو کښې د عبدالقادر خان خټک په خاندان کښې موجود ؤ اوVerses of mysterious meaning لفظونه په دې خبره دلالت کوي، چې د هغهٔ خاندان ته د دې رسالې محتویات هم معلوم وو

**د تحفة اللهو پښتوقلمي نسخه: لنډه پېژندګلو**

**د مرکز تحقیقاتِ فارسي ایران و پاکستان د ګنج بخش کتابخانې د پښتو** تحفة اللهو دا قلمي **نسخه د ځلورو عربي او فارسي نسخو** (دستورالقضات د تبریزی، شرحِ کنزالدقایق د محمد شفیع ،طب النبیﷺ او الروایات النادره فی الکتب المنتشره چې لیکوال یې معلوم نهٔ دي) **سره په یوه وقایه کښې په ځلورم نمبرګڼدل شوې ده ـ د ګنج بخش کتابخانې دخطي نسخو فهرست جوړوُنکي د دې نسخې په شناخت کښې تېروتي**

**دي ـ ډاکټر محمد حسين تسبيحي په خپل جوړ کړي فهرست کښې دا نسخه د "بياضِ فقهي" په نامه نوټ کړې ده او دا يې يو ديني اثر ګڼلے دے**[3]**. دغه تېروتنه بيا د عبدالکريم عامر په جوړ کړي فهرست کښې هم تکرار شوې ده او ورسره يې دا خبره هم زياته کړې ده ،چې ليکوال يې ناڅرګند دے**[4] **ـ ډاکټر محمد حسين تسبيحي خو پښتومتن نهٔ شو لوستلے ،خو کهٔ يواځې يې د دې متن ترقيمه هم لوستې وې ،چې په فارسي ژبه ليکلې شوې ده،نوکم نهٔ کم د دې اثر نامه کښې به نهٔ وُ تېروتې ـ بل داسې ښکاري چې عبدالکريم عامر هم دغه نسخه نهٔ ده کتلے،ګني نو د نسخې نوم په ترقيمه کښې موجود دے ـ محتويات يې د متن نه ښکاره دي او د ليکوال نوم د منظومې په مقطع کښې راغلے دے ـ**

**بهرحال دا په توله دنيا کښې تراوسه د دې متن لومړی قلمي نسخه ده ،چې بازيافت شوه ـ دا نسخه نجيب الطرفين ده ـ** په خړ هندي کاغذ ليکلې شوې ده او **په دغه کتاب خانه کښې يې نمبر ۴۵۷۷ دے ـ**

**د دې نسخې پيل د بسم الله نه وروستو د فلکياتو د دايرو نه شوې دے، چې پرله پسې دوه دايرې دي او هره دايره په اتو فلکياتو مشتمله ده ـ د دايرو څخه وروستود متن بيتونه پيل شوي دي چې هر بيت سره د متعلقه فلکياتوآخري حرفونه اندراج شوي دي ـ د غه ټول بيتونه ۶۰ دي ـ د بيتونوداختتام نه پس په تتمه کښې " تم تما(م) شد تم" کلمات راوړل شوي دي او بيا د تتمې څخه وروستو ترقيمه راوړل شوې ده ـ**

**دغه ترقيمه** د کاتب د نوم او د کتابت دکال اندراج نهٔ لري، **خو د دې اثر نوم پکښې راوړل شوے دے چې "**تحفة اللهو" دے ـ عبدالرحمان حبيب زے په خپله پي ايچ ډي مقاله: "د داتاګنج بخش د کتابخانې پښتو مخطوطات "کښې د دې اثر نوم "تحفة الله"[5] راوړے دے ،چې د ترقيمې د اندراج مطابق نهٔ دے ـ

د دې نسخې قطع ۱۷ × ۲۵سنتي ميټره او د متن قطع يې ۱۰ × ۱۷ سنتي ميټره ده ـ ۶ مخه لري،چې عبدالرحمان حبيب زے په خپله مذکوره پي ايچ ډي مقاله کښې په خطا ۷مخه ښئيلي ده[6] دا نسخه په توره سياهي ليکلې شوې ده ،خو د فلکياتو نومونه او **هر بيت سره د متعلقه فلکياتوآخري حرفونه پکښې په سرهٔ سياهۍ ليکل شوي دي ـ** خط يې نستعليق دے ـ د نسخې ډول ساده دے يعني د جدولونو اهتمام نهٔ لري

د نسخې کاتب کم سواده دے،ځينې ټکي يې ناسم ليکلي دي، لکه: خائست (ښائست)، سرمن (څرمن) سوک(څوک)،خواکهٔ (خوارهٔ) وغيره ـ په دې نسخه کښې د يو ټکي بيلا بيل صورتونه هم ليدلے شي لکه خائست اوشائست، زما او ځما وغيره

په توله نسخه کښې ګ په ک ليکل شوے دے لکه:نکار (نګار)،زنکار (زنګار)،کلستان (ګلستان)،کل (ګل) وغيره ـ د قلمي نسخو د املا د زوړ طرز سره سم دوه ټکي پکښې ځاے په ځاے يو ځاے ليکلي شوي دي،لکه:

پشائيت - - - - - - - - په ښائست
پمرغونو - - - - - - - - په مرغونو
پصفت - - - - - - - - - - په صفت
پجدائي - - - - - - - - په جدائي
پموتي - - - - - - - - - - په موتي

نمونې لپاره د نسخې د پيل برخه ملاحظه کړئ ـ

پيل د بسم الله نه وروستو:

**[اوله دائره]**

فلک اعظم: اوسپنه، مس، قلعي، زیړ، تانبه، سکه، سرۀ زر، سپین زر
فلک مشتري: عنبر، مشک، دارو، عود، کافور، شکره، شراب، چندړ
فلک زهره: طعام، خسنې، نوک، شیشه، هډوکے، پاڼه، نیلاتوته، څرمن
فلک عطارد: الماس، وړی، پنبه، هیرې، پیاز، تخم، ګل، هنجه
فلک زحل: خامتا، اغزے، ریښم، پسته، جواهر، مرغلره، لعل، سپېنسے
فلک مریخ: کاغذ، موم، مېوه، لرګے، وېښتۀ، ګونګرو، دُرمه، خوشبویي
فلک شمس: غوښې، کاڼے، بوس، کودرے، سکور، خښته، خاورې، شګې
فلک قمر: ځناور، مالګه، سبزه، خوارۀ، غوشوے، چونه، یخ، اوږه

**[دوېمه دائره]**

فلک اعظم: اوسپنه، عنبر، طعام، الماس، خامتا، کاغذ، غوښې، ځناور
فلک مشتري: مس، مشک، خسنې، وړی، اغزے، موم، کاڼے، مالګه
فلک زهره: قلعي، دارو، نوک، پنبه، ریښم، مېوه، بوس، سبزه
فلک عطارد: زیړ، عود، شیشه، هیرې، پسته، لرګے، کودرے، خوارۀ
فلک زحل: تانبه، کافور، هډوکے، پیاز، جواهر، وېښتۀ، سکور، غوشوے
فلک مریخ: سیکه، شکره، پاڼه، تخم، مرغلره، ګونګرو، خښته، چونه
فلک شمس: سپین زر ، شراب ،نیلاتوته، ګل، لعل، دُرمه، خاورې، یخ
فلک قمر: سرۀ زر،چندړ ، څرمن، هنجه، سپېنسے، خوشبویي، شګې،اوږه (هوږه)

هر سړے چې پۀ هنر کښې خردمند وي
۱ غم يې څۀ دے چې يې زر پۀ لاس کښې بند وي [م ر]

دا زما خاطر به خلاص کړې لۀ وسواسه
۲ کۀ دا پټه قلعي واچوې لۀ لاسه [م ه]

پۀ افکار به دې د زړۀ کله [و]پوهېږم
۳ تا پۀ لاس کښې زیړ پټ کړي دي، پوهېږم [م د]

مسافر به څۀ ارمان کۀ د هوس
۴ چې هر دم فریاد د کوچ کاندي جرس [خ خ]

خدای يې تل لره ژوندے پۀ دا جهان
۵ پۀ لاسونو کښې چې مس لري پنهان [م ل]

هغه دم به لۀ خاطره غم سېوا شي
۶ چې کاغذ د يار لۀ رويه راته راشي [خ م]

د نسخې د پاې برخه :

اے چې نۀ شته پۀ جهان کښې تر تا کښلي
۵۸ تا چندړ (دي) پۀ لاسو(نو) کښې نيولي [ي ر]
اے چې ستا د حسن غر دے پۀ وګړي
۵۹ بيا مشک دي تا پۀ دواړو لاسو کښې پټ کړي [ي ي]

اے (چې) تل دی پۀ صفت عبدالقادر دے
۶۰ ستا د موتي برکت وته ظاهر دے

د نسخې تتمه[7] او ترقيمه[8] دا ده:

تم تما(م) شد تم

اين كلمات مختصر پند دلپذير براى نوشېروان عادل گفتۀ خواجه بزرجمهر و نامش "تحفة اللهو" نهاده، در معنى آن كه از آن چه در دست گيرند، در معاينه از جميع امور يافته شود، برين قاعده كه آخر حرف كواكب هر دو دائره گرفته به پند و حساب نموده، اسم آن شى از آن برآرد به حساب ابجد[9] -

تم تم تم

د عبدالقادر خان خټک د " تحفة اللهو" دا متن د ذهني مشق يوه ادبي مشغولا ده ـ تاسو پاس د نسخې د پاې د برخې د نمونو نه وړاندې د پيل د برخې په نمونوکښې وُکتل چې د "تحفة اللهو" په متن کښې مصنف د اتۀ فلکياتو: فلکِ اعظم،فلکِ مشتري ،فلکِ زهره، فلکِ عطارد، فلکِ زحل، فلکِ مريخ، فلکِ شمس او فلکِ قمر دوه دايرې جوړې کړې دي ـ هر فلک سره يې اړوند شيان په دوؤ دايرو کښې درج کړي دي او بيا يې داسې شعرونه جوړ کړي دي، چې په هر شعر کښې د دواړو دايرو څخه د يومشترک اړوند "شي " نوم راغلے دے ـ د شعر سره يې په سرۀ رنګ د هغو دواړو دايرو د فلکياتو د نامو

وروستي حرفونه هم ليکلي دي؛ د بنۀ تفهيم لپاره يو مثال د متن د پيل د برخي څخه ورکوؤ ـ د متن شپږم شعر دے چې:

هغه دم به لۀ خاطره غم سپوا شي
چې کاغذ د يار له رويه راته راشي        [خ م]

پاسني بيت سره متصل خ/ م ليکل شوي دي ـ د "خ" نه مراد په لومړیَ دايره کښې فلکِ مريخ دے او د "م " نه مراد په دوېمه دايره کښې فلکِ اعظم دے ـ دغه دايرې په متن کښې داسې راغلې دي:

فلکِ مريخ: کاغذ،موم، مېوه، لرګے، وېښتهٔ،ګونګرو،دُرمه ،خوشبويي

فلک ِاعظم: اوسپنه، عنبر، طعام، الماس، خامتا، کاغذ، غوښې،ځناور

اوس په پاسنيوداېروچې مونږ نظر اچوؤ نو په دغو کښې " کاغذ" هغه شے دے چې د دواړو فلکي دايرو په شيانوکښې مشترک دے او بيا هم دغه شے (کاغذ) په پاسني درج شعرکښې هم راغلے دے ،چې شعر سره متصل درج د خ /م حرفونوپه وسيله دغو دواړو فلکي دايرو (فلک مريخ او اود شعر سره فلک اعظم) ته اشاره هم شوې ده ـ مطلب داچې دغه شے (کاغذ) د دغو دواړوفلکي دايرو څخه مشترک اخستل شوے دے او همدا د"تحفة اللهو" مشخص تکنيک دے، چې په ټول متن کښې کارول شوے دے او هم په دغه تکنيک د ټول متن کلهم بيتونو کښې پټ شيان څرګنديدلے شي ـ ياده دې وي چې د"تحفة اللهو" د متن دا مشخص تکنيک تراوسه په کلهم پښتو ادب کښې نۀ دې ليدلے شوے ـ البته په فارسي ادب کښې **د** " تحفة اللهو" متن شته ،چې خواجه بزرجمهر[10] ته منسوب دے ـ خو د عبدالقادر خان خټک د " تحفة اللهو" د پښتو متن بيتونه، **د** "تحفة اللهو" د فارسي متن د بيتونو ترجمه نۀ ده ـ البته د دايرو نظام، د شيانو نومونه او نور تکنيک ، طرز او طريق يې **د فارسي متن** څخه اخستل شوے دے ـ

حوالي او حاشيې

[1]. Raverty, H.G, A Grammar of the Pukhto or Pashto language of the Afghans, Third Edition, London, Published by Williams and Norgate, 1867, P:29

[2]. Raverty, H.G, Captain, Selection from the Poetry of the Afghans, London, Published by Williams and Norgate, 1862, P:270

[3]. تسبيحی محمد حسين، فہرست الفبائی نسخه ہائی خطی کتب خانه گنج بخش، اسلام آباد، مرکز تحقيقاتِ فارسی ايران وپاکستان، بار دوم، ۲۰۰۵ء، ص: ۱۰۱

[4]. عامر،عبدالکريم،د پښتوقلمي نسخې( په داتا ګنج بخش کتابتون کښې)، مشموله: درېِ مياشتنۍ پښتومجله " ليکني" جلدنمبر:۲،شماره نمبر:۱۳، اپريل تاجون ۲۰۱۶، م:۹۵

[5]. حبيب زے، عبدالرحمان، د داتا ګنج بخش د کتابخانې پښتومخطوطات، د پښتو اکېډمی پېښور يونيورستۍ ملکيت، م: ۳۱۵

[6]. حبيب زے، عبدالرحمان، د داتا ګنج بخش د کتابخانې پښتومخطوطات، ، م: ۳۱۵

[7] " تتمه" د لغت له مخې د هر شي پاے او آخر ته ويل کېږي ـ د ليک پاے ته هم اصطلاحاً تتمه ويل کېږي ـ د مخطوطه پېژندنې په برخه کښې "تتمه" هغه وروستي کلمات دي چې د نسخې تر ختمېدو وروسته ليکل کېږي، په پښتو قلمي نسخو کښې زياتره دغه کلمات په فارسي ژبه ليکل شوي وي لکه: "تمت"، "تم تم تم"،"تم تمام شدتم"،"تمت بالخير"، "ختم شد"، "تمام شد"او داسې نور ـ دا ډول کلمات څرګندوي چې نسخه/کتاب همدلته پاے ته رسېدلے او له دې وروستو نورې پاڼې د متن برخه نۀ ده ـ
په پخوانيو کتابونو/قلمي نسخو کښې د تتمې د وروستو د ترقيمې عبارت موندل کېږي او کله کله د ترقيمې د پيل نه وړاندې او د اختتام نه وروستو دواړه ځايه د تتمې کلمات راوړل شي، چې يو مثال يې د تحفة الهو د پښتو قلمي نسخې د اختتام نه پس کتلے شئ ـ

[8]. ترقيمه : د "ترقيمې" لغوي معنا ليکل شوے ټکي يا ثبت شوے عبارت دے، خو د تحقيق او تدوين په اصطلاح کښې ترقيمه هغه ځانګړې ليکنه يا عبارت ته ويل کېږي چې کاتب يا نقل کوونکے له نسخې نقلولو وروسته د يادښت په توګه د نسخې په پاے کښې

ليکي ـ په ترقيمه کښې کاتب عموماً د کتاب نوم، د مصنف نوم، د نسخې د پاے نېټه او بعض اوقات د کتابت امر کوونکي نوم او چې د چا د پاره يې کتابت شوی وي، د هغهٔ نوم ليکي ـ دې نه وروستو خپل نوم او کله کله خپل نسب، مسلک، مصروفيت، ټاټوبے، سيمه او نور دا ډول معلومات لنډيز سره ليکي ـ د خطي نسخو د ترقيمو عبارت په يو دود نهٔ وي ـ کاتب پکښې خپله مرضي ښه برابر چلوي ـ د ترقيمې دود له پخوا زمانو راهسې د خطي نسخو ليکلو يوه مهمه برخه ده. خو دا اصطلاح دومره پخوانۍ نه ده ـ د خطي نسخو د پاے ليکنو لپاره دا نوم په هند کښې اېښودل شوے دے او د اسلامي نړۍ د زرګونو کلونو د مخطوطه ليکنې په دود کښې، دا نوم د دغې پاے ليکنې لپاره ډېر پخوا نهٔ ؤ کارېدلے ـ بهرحال ترقيمه د مدون او محقق لپاره ډېر قيمتي ماخذ وي، ځکه چې ځيني وختونو کښې له ترقيمې څخه د کتاب د متن اړوند مهم معلومات ترلاسه کېږي ـ

9 خودلته يې د ابجدو په مستعملو قاعدو د متن د بيتونو نه د پټو شيانو د نومونو د راوښکلو حساب نهٔ برابرېږي او يا داسې به وواېوچې مونږ برابر نهٔ کړے شو. ښه به وي کهٔ د متن د اشاعت څخه وروستو د ابجدو د کوم استاد لاس پرې بر شي او حساب يې برابر کړي ـ کهٔ داسې وشوه، نو دا به د "تحفة اللهو" د سپړلو دوېم تکنيک ترلاسه شي ـ

10 **بزرجمهر/** بزرګمهر **د خپلې زيرکتيا له سوبه خپل يو نړيوال شهرت لري ـ د کليله او دمنه پهلوي ترجمه يې د دوامي شهرت يوه بله درنه حواله ده ـ پښتوادب ته اول د دهٔ نامه د خوشحال خټک د دستارنامې د نولسم هنر (د نرد د شطرنج دے) او بيا د کليلې او دمنې د پښتو ترجموپه سوب رارسېدلې ده او د دغو آثارو د تحقيق او تدوين په اوان د بحثونو برخه ګرځېدلې ده ـ دغسې د خپلې هوښيارتيا او زيرکتيا له امله په پښتنه ټولنه کښې په اولسي کچه هم د دهٔ نامه په اصل بڼه يا لږ په تغير سره د خلکوپه خولهٔ روانه او په زړهٔ او ذهن نقش پاتې شوې ده ـ په پښتنه ټولنه کښې دا متل هر څوک د موقعې په مناسبت سره ښهٔ په ډکه خولهٔ کوي چې: "څهٔ دې د ځانه زبرګ/بزرګ جميل جوړ کړے دے "يا "دهٔ خو د ځانه سم زبرګ/بزرګ جميل جوړ کړے دے"، نو دا زبرګ/بزرګ جميل د بزرجمهر** اړول شوے شکل دے، خوځيني خلک **د زبرګ/بزرګ جميل په ځاے** بزرجمهر هم وايي ـ اوس د**" تحفة اللهو"** د فارسي متن د انتساب يوه بله حواله يې رامېنځ ته شوه، چې عبدالقادرخان خټک يې د دغه اثر په تکنيک، طرز او طريق دا زېر بحث پښتومتن ليکلے دے ـ

د بزر جمهر/ بزرګمهر د پيدائش د ځاے ځائيګي په اړه متضاد روايتونه موجود دي ـ د نامتو مؤرخ محمود نجم آبادي د تحقيق تر مخه: بزرګمهر بختګان دسوخرا بختک (بُوغ تَغُ) زوے ؤ، چې د اوسني ترکمنستان د "مرو" وسيدونکے ؤ ـ حکيم بزرګمهر د ساساني باچا خسرو نوشېروان يو هوښيار وزير ؤ، چې باچا ته به يې له پند او عبرته ډک داستانونه او معماوې وئيلې ،خو د ختيځو سرچينو له مخې: بزرګمهر په "مداين" ښار کښې وزيږېدو. په ماشومتوب کښې يې د علومو زده کړې پيل کړې او د موبدانو سره يې اوستا ولوستله ـ کله چې لوے شو، د خسرو نوشېروان زوي "هرمز" ته ځانګړے استاد وټاکل شو. وروستو باچا د هغهٔ عقل، پوهې او وړتيا ته په کتو، دے خپل وزير وټاکه ـ په دغو بيان شوؤ دواړو روايتونو کښې د بزرګمهر د پيدائش د ځاے ځائيګي په اړه دوه بېلابيل ځايونه:مرو او مداين ښودلي شوي دي ـ " مرو" په ترکمنستان او" مداين " په عراق کښې دے او دواړه ځايونه په جغرافيائي لحاظ د يو بل نه کافي لرې دي ـ خو هاغه وخت ترکمانستان او عراق دواړه د ساساني واکمنۍ برخه وه ـ البته مونږ چې په دې حواله ځينې نورومنابعو ته رجوع وکړه، نو زياترو د دهٔ د پيدائش ځاے ځائېګے "مرو" ياد کړے دے ـ